پوهندوی آصف بهاند

# د کاروان ورځ

## د پیرمحمد کاروان د فرهنگي شخصیت د درناوي په پار




په افغانستان کې ځینو فرهنگي فعلانو، نیت کړی دی چې د کاروان صاحب د ادبی ــ فرهنگي شخصیت د لمانځلو له پاره د ۲۰۲۲ ام میلادي کال د جولای پر دېرشمه یوه شانداره غونډه جوړه کړي او د «کاروان ورځ» ترسرلیک لاندې د ده د فرهنگي کارونو درناوی وکړي.

دا درې ورځې په ټولنیزه میډیا کې دا کار په پوره مینې سره روان دی. ما هم وغوښتل چې د کاروان صاحب د فرهنگي شخیت په دې درناوي کې ونډه واخلم، دا دی په همدې مناسبت به خپله هغه مقاله د همدې مقدمې په زیاتولو سره یو ځل بیا خپره کړم چې کلونه پخوا مې له ده سره د لیدنې او د ده د یوې شعرې ټولگې (له کاروان سره یو ماښام) د مخکاته خاطرات په کې لیکلي وو.

خو مخکې تر مقالې، د کاروان صاحب په باب یو څو خبرې:

پیرمحمد کاروان د فرهنگ په څو ډگرونو کې قلم چلولی دی:

ـ د یوه ژورنالست په توګه یې بي بي سي او اخبارونو سره کار کړی دی،

ـ د هنري نثر په ډګر کې یې اثار پنځولي دي،

ـ شاعري یې کړې ده، د شعرونو څو ټولګې لري چې ډېری خلک یې د شاعر په توګه پېژني.

زما هیله له نوي نسل څخه دا ده چې:

ـ د کتاب پېرلو او کتاب لوستلو د فرهنګ په دایره کې، د کاروان کتابونه واخلئ او وېلولئ،

ـ د کاروان د رنګینو افکارو بڼ ته ورننوزئ او ننداره یې وکړئ،

ـ د کاروان د اثارو او افکارو مطالعه، یوې نالیدلې نړۍ ته سفر دی، په دې سفر کې به څوک ستړي نه شي او هر څوک ډېر څه ورنه زده کولای شي.

دا هم زما مقاله:

## له کاروان سره یو ماسپښین

په ښنو باغو کې شین طوطي ګرځیدم
خو اوس پنـدي یمـه پنـدونـه ورمـه

(آصف بهاند)



د هندارو او کاروانونو شاعر پیر محمد کاروان او آصف بهاند
د ۲۰۱۵ کال اپریل دیرشمه، کابل خیر خانه مېنه

د ۲۰۱۵ کال په اپریل کې مې کابل ته سفر وکړ، د اپریل له نهمې د مې تر دولسمې پورې
هلته پاتې شوم. له خپل کور کلي نه علاوه مې د کابل ښار هغه ټولي برخې ولیدې چې زما

ماشومتوب، تانده ځواني، زلميتوب، زدکړې، کار، خوښي، غمونه او... په کې تيرې شوي وو او څه نا څه خواږه ترخه خاطرات مې ور سره غوټه دي. له دې نه ور آخوا مې د خپل توان په دايره کې، خپل فرهنګي ياران پيدا کړل، ومې ليدل او د زړه خواله مې ور سره وکړه.

د دې سفر جريان او څرنګوالی مې تاريخ وار ليکه او زما خيال داسې و چې زه به د دې سفر هغې برخې ته چې له خپلو فرهنګي دوستانو سره مې ليدل کتل درلودل، د «ديدن» نوم ورکړم او د هر فرهنګي دوستانو د ليدلو جريان ته همدا يو عنوان (ديدن) و ټاکم او د هر فرهنګي ليدلو ته يې جلا، جلا برخې بيلې کړم، خو ما چې په کابل کې حالات او د يارانو په منځ کې ستونزې، تضادونه، سليقوي اختلافات او... وليدل، بيا يې په هغه وخت کې له خپرولو تير شوم.

او س چې بيا د ۲۰۱۶ کال د اپريل مياشت په خلاصيدو ده او زه په رسنيو کې د کابل ټوټې، ټوټې او ټپي، ټپي بدن د نفرت په اور کې را ايسار شوی ګورم، نو هره شيبه د کاروان صاحب دا څو بيتونه مې د ککرۍ په ګومبزه کې د نا هيلۍ له بادونو سره آزانګې کوي او هر ځلې چې پر کابل باندې د بلو لمبو تصويرونه ګورم، د کاروان صاحب دا څو بيتونه مې په زړه ګرځې را ګرځي او سترګو ته مې د يأس تروه څاڅکي را ميلمانه کوي:

راشــه د رحـمـت بـارانـه ښـار اخـيستـی اور دی
ژونـد لـــکـــه د کـلـي د چـنـار اخـيستی اور دی

راشئ زمـا اوښـکـې ور لـــه يــوســئ بـلـبـلانـــو
سـوځـي در نه ښـکلي لالـــه زار اخـيستی اور دی

نـه يـې د چـا لاس لـکـه امـيل لـه غـاړې تـا و شـو
غـاړه کـې يـې خـپل د غـاړې هـار اخيستی اور دی

وچې شونـډې ګـرځـئ بـد بـخـتـانـو مـيـخـوارانـو
اوښـکـې د انــګـور وسوې انــار اخيستی اور دی

لـــرې شـه لـمــنـه بـه دې وســوځـي طـبـيـبه
پرې يې ږده چې څه کيـږي پـرهار اخيستی اور دی

مـا وې ګـلابي جـامــونـه راکــړه را تـــه وې يــې
وار وکړه، تلوار مــه کـړه ستـا وار اخيستی اور دی

سوې د کاروان سندرې چـا پــه زمـزمـه کـړې؟
ګـــوتې د مـطرب وسوې شـاتــار اخيستی اور دی

د کاروان سوو شاعرانه چيغو ته هيڅ چا غوږ و نه نيو، ښار لا پسې اور واخيست، وسوځيد، اوس هم سوځي او لاله زار په کربلا بدل شوی دی، بلبلانو کې هم چا ځالې پريښودې او

والوتل او ځوک لا له سوځیدلو وزرونو سره ور ته ناست دي، په لمدو او مجبورو سترګو ور ته ګوري او نور هم په کې سوځي.

نو مې زړه کې را تیر شول چې را ځه نن د کابل د «دیدن» هغه برخه له لوستونکو سره شریکه کړه چې یو کال مخکې د اپریل په دیرشمه مې له کاروان سره په خیرخانه مینه کې، د ده په فقیرانه جونګړه کې درلود.

ما خپلې لیکنې ته دا سرلیک (له کاروان سره یو ماسپښین) ځکه وټاکه چې له نن نه کلونه وړاندې، زما په ګډون، ځو تنو فرهنګي یارانو، د کاروان صاحب د «چنار خبرې کوي» د چاپیدو په پار، کاروان او د ده شعر ته  د درناوي په خاطر، په ماسکو کې یو محفل جوړ کړی و، هغه ته مو نوم ورکړی و:

## «له کاروان سره یو ماښام»

د هغه محفل لنډ شانتې مالومات داسې دی:

د ماسکو د مهاجرت د بې سر نوشتې، بې اسنادۍ، بې کورۍ او نورو ګڼو ستونزو ساعتونه، شپې ، ورځې وې چې یوه ورځ یو یار را ته وویلې چې د کاروان صاحب د شعرونو نوې چاپ شوې ټولګه (چنار خبرې کوي) را رسیدلې ده، که دې خوښه وي د مخکاته یو محفل به ورته ونیسو. د هغو جسمي او رواني ستړیاوو په شیبو، ساعتونو او ورځو کې ما نور له خدایه څه غوښتل، د یو ځو شاعرو او لیکوالو یارانو را ټولیدل، سره لیدل او بنډار، د کاروان د شعر اوریدل، د هغه په باب خبرې کول او د موسیقي په څپو کې یې اوریدل؛ ما ویل سمه ده. د محفل سر لیک مو د یارانو په خوښه وټاکه: «له کاروان سره یو ماښام» محفل زما له تصور نه لا ښه په شاندار ډول تر سره شو او یارانو په کې د مشاعرې په ډول خپل شعرونه، د کاروان صاحب شعرونه، د کاروان د شعر او هنر په باب خبرې او نظریات او تر ټولو جالبه برخه موسیقي وه چې استاد یار محمد علیزي د کاروان یو ځو شعرونه، د غني خان او الفت صاحب شعرونه په نوي ښه کمپوز کړي وو او د لومړي ځل له پاره یې د مشاعرې او نظریاتو د اورولو په لړ کې داسې زمزمه کول چې د ستړیاو بیخ به یې ایسته.

خبره په هماغه ځای خلاصه شوه، یاران لکه وچې پاڼې بیا د سرنوشت بادونو په هوا کړل، ځوک چیرې او ځوک چیرې لاړل ولویدل، ځوک خوښ ځوک نا خوښ، ځوک راضي او ځوک نا راضي.

زه د سرنوشت بادونو پسې واخیستم، پورته هوا ته یې جګ نه کړم، بلکې په مځکه یې په رغړیدو، رغړیدو تر ډنمارکه پورې را ورسولم او...

تیر کال یو ځل بیا خدای جان د وطن، د کابل، د کورني، د هیوادوالو او د فرهنګي یارانو زیارت را باندې ولوراوه. د نورو دوستانو، همځولو، کشرانو او مشرانو کیسې بیا ، خو اوس

به له کاروان سره د یو ماسپښين کيسه په لنډ ډول وکړم. په هماغه ورځ چې زما او کاروان دیدن وشو، ما د خپلو ورځنیو یاداشتونو په سلسله کې داسې ولیکل:

د ۲۰۱۵ کال د اپریل په دیرشمه زما د خوښې وړ شاعر پير محمد کاروان دیدن خدای را په برخه کړ. د کابل د خیر خانې مینې د قلعه نجارا لومړي سرک، د بي بي سي دفتر ته ورغلم، څو شیبې همالته کیناستو او بیا د خیر خانې په دویمه برخه کې د ده استونځي ته لاړو.
د کاروان کوټه، د کاروان فقیر خانه، د ده د شعرونو او فکرونو له پاره یو ښه، هوسا او آرامه ځای و، د دې له پاره ښه و چې دی یوازې کیني او د خپل فکر د نيلي له پاره پراخه فضا جوړه کړي، د دې له پاره ښه ځای و چې کاروان د خپل شعر د ناوې په باب فکر وکړي او د خپل شعر مجسمه په یوازې ډول و توږي، تراش یې کړي، د خپل فکر زرين شال پرې وغوړوي، سينګار یې کړي او د شعر په نامه یې بیا په «زر زري وزرې» والوزوي او...

کاروان په دې فقیر خانه کې یوازې ناست و، خو ما یوازې و نه ګاڼه، ما لیدل چې ده سره نور څه هم شته، د ده فکرونه او شاعرانه سوچونه، ما لیدل چې د ده د شعر رنګینو انځورونو، چار چاپیره اتڼ کاوه او ده ته همداسې یوه آرامه او د یوازې توب فضا په کار وه چې دی د خپل شعر رنګین او ښکلي انځورونه د کلماتو په قالب کې را ایسار کړي او د شعر په نامه یې په چنار کې کيـږدي چې خبرې وکړي او په زر زري وزرو سره یې والوزوي او...

یوه عادي ګډه وډه کوټه، خو کوټې، کوټې کتابونه، زړه یې ډیر پاک او له انساني عواطفو او شاعرانه مينې ډک. له کیناسو سره سم یې لپ ټاپ را ته کيښود او ما په لپ ټاپ کې ورته راوړې ډالۍ کيښوده چې باید دا ډ الۍ کلونه پخوا ورکړل شوې وای.

دا ډالۍ په ماسکو کې د ده د «چنار خبرې کوي» د کتاب د مخکاته د هغه محفل ویدیو وه، چې د ۱۹۹۹ کال د جنورۍ په دویمه د ځينو فرهنګیانو په همت جوړ شوی و. څو برخې یې چې ولیدې، داسې خوشاله شو چې په کالیو کې څه چې په خپل پوستکي کې نه ځایده.

د کتاب مخکاته د محفل په لړ کې استاد یار محمد علیزي د ده له همدې کتاب نه، د ده شعرونه انتخاب او کمپوز کړي وو او داسې یې په خپل سحر ګر غږ کې زمزمه کړي دي، چې په خپله کاروان ورته حک حیران و. څه یې نه ویل، خو ما لیده چې دی د محفل له دایرونکو او استاد یار محمد نه داسې مننداوی دی، چې د بدن غړي، غړي یې مننه کوله.

په ماسکو کې «له کاروان سره یو ماښام» کې تر پنځوسو ډیر شاعران لیکوالان او فرهنګیان، له کاروان سره غیر حضوري ناست وو، مشاعره وه سندرې وي او مقالې وې، خو زه په کابل کې «له کاروان سره یو ماسپښين» کې حضوري مخامخ او یوازې ناست وم.

مشاعره مو وکړه، ده ما ته د خپلو نا چاپو شعرونو نه څه واورول او ما هم خپل یو څو ټوټې شعرونه ورته زړه نا زړه ولوستل، په سړه سینه یې واوریدل او په ټولو کې یې هغه څلوریزه خوښه شوه چې ما ده ته په ماسکو کې، د ده د یوې پوښتنې او ګیلې په ځواب کې لیکلې وه.

کاروان د ګیلي تر څنګ پوښتلی وم چې څه کار کوې؟ ما یې په ځواب کې د اوږده لیک په ځای دا څلوریزه لیکلې وه:

پر زخمي زړه باندې شعرونه ورمه
په هر پرهر کې یې دردونه ورمه

په شنو باغو کې شین طوطي ګرځیدم
خو اوس پنډي یمه پنډونه ورمه

مرکه مو څه باندې درې ساعته اوږده شوه، له ما سره تیلیفون بې وخته وشرنګیده او زموږ د مرکې په شنه بڼ باندې یې بې وخته خزان راپیښ کړ. زه اړ وتلم چې د ده د حضور له فیض نه محروم شم او مجبوراً مې له ده سره د خدای په اماني تابیا وکړه.

موږ دواړه مجبوران وو، زما په زړه کې چې څه تیر شول، یوازې خدای او زه پوهیدم او د ده په زړه باندې هم یوازې دی او خدای پوهیدل، خو ما د ده د سترګو په آیینه کې هغه څه ولیدل چې زموږ د دواړو د زړه یو تت شانتې انځور و، د ده د دعا نومې شعر دا بیتونه:

په هر درشل به لګه خوږ باد د سبا تیریدم
سوړ اسویلی شوم چې په سیمه د آشنا تیریدم

د یار د سترګو په زیارت کې وې د اوښکو ډیوې
زړه مې په نذر کې و ایښی په دعا تیریدم

د پیرمحمد د شعر کاروان
دې تل له رنګینیو ډک وي
او په زرزري وزرو دې
تاند الوت کوي.